**بسم الله الرحمن الرحيم**

**(ژباړه)**

## موږ لکه دېوال کلک ولاړ یو!

له اوبو موسی رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«**الْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضاً وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِه**» (صحیح البخاري: ۲۳۴۱)

***ژباړه:*** *مومن د مومن لپاره د ودانۍ د ستنې په څېر دی، چې هره برخه یې د بلې برخې د پیاوړتیا لامل کېږي او (د هغه حالت د ښودلو لپاره یې) د خپلو لاسونو ګوتې یو په بل کې سره ورکړې.*

دغه حدیث شریف موږ ته وایي، چې مومنان باید د یو او بل په حق کې څه ډول چلند وکړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته فرمایي چې مومنان د یوې پیاوړې ودانۍ په څېر دي، چې له یو او بل سره مرسته کوي، د یو او بل لاسنیوی کوي او یو شمېر یې د یو شمېر نورو ملاتړي او مرستندوی دي. هغوی د واحد جسم غوندې دي، چې په همغږۍ او انسجام سره کار کوي؛ ځکه په موږ کې هر یو د اسلام یوه برخه مختله وړي او موږ مسول یو چې اسلام له لاسه ورنه کړو.

نو له دغه ستر حدیث شریف څخه پوهېږو چې مسلمان باید د خپل ورور ملاتړی او مرستندوی وي، د هغه چارو ته رسیده‌ګي وکړي او د هغوی مصالحو ته چې د الله تعالی د رضا لامل کېږي او هغو مصالحو ته چې د مسلمانانو د عزت او دبدبې ساتنه کوي، پاملرنه وکړي؛ ځکه په یووالي سره ځواکمن کېږي، خپل دښمنان وېرولی شي او په تفرقې سره بیا کمزوري کېږي، چې د اسلام او مسلمانانو دښمنانو ته په یوه اسانه ښکار بدلېدلی شي.

له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې زموږ دین راته خوندي کړي، موږ د دین پر اساس متحد کړي او موږ د هغه خلیفه تر سیوري لاندې سره را ټول کړي، چې د الله سبحانه وتعالی د کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو پر اساس حکومت کوي!

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**